مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لامو

۲۰۲۱/۱۲/۲۰

# وایه ځومره نورهم زوړ شم

وایه ځومره نورهم زوړ شم

وایه ځومره وخت پکار دی؟

چې یوځوک د ژیړ نرګس له ځنګه تیرشي

خو د چا یې مړاوې سترګې په زړه نشي

د انارو د یاقوتو په لیدلو

د یوچا د پستو شونډو تک سور قند یې په سینه کې اوبه نشي

د غنمو ژیړو پیغلو سره ناست وي

خو د چا په مرمرین لاس د غلميني ډوډۍ درد یی نشه نه کړي

وایه ځومره وخت پکار دی؟

چې د چا د تنکي غږ

په ها تازه، خوږې تودوخې

زنځیرونه،

د چا پښو کې ویلې نشي

ګلابونو! اې کنګل، کنګل اورونو

وایاست! ستاسو او د هغې ښایسته نجلۍ ترمنځ مو څه رشته ده؟

چې پرسپينوانګو یې مدام سره رڼا ځلیږي

اې ډبرې!

اې ایوبي پیغامبرې!

وایه خولې ته د درد په سخت ساعت کې

ځنګه واچوم کولپونه ؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ